بسم الله الرحمن الرحيم

## د سولې د عالي شورا او مدني ټولنو د بنسټونو تر منځ

## د همکارۍ ګډه اعلامیه

د تلې ۴ نېټه – ۱۳۹۲ کال

له څه دپاسه ۱۲ کلونو راهیسی افغانستان د ګڼو ستونزو سره سره په اقتصادي، ټولنیزو، کلتوری او سیاسی برخو کې د پام وړ پرمختګونه کړي دي. په دې موده کی د هیواد د بیا رغونی اود ښو خدماتو وړاندی کولو لپاره د نظام او د دولتی بنسټونو جوړولو برسیره، مهمو دموکراتیک بنسټونو چی د هیواد د سیاسی نظام نه بیلیدونکې برخه جوړوی، د پام وړ وده کړیده چې نن ورځ کولای شي په بیلابیلو اړخونو کی اغیزمنه ونډه ولري. پاتې دې نه وي چې افغانستان له یوی اوږدې انزوایی دوری وروسته د نړیوالې ټولنې د ملاتړ او مرستي څخه برخمن شوی دی چه د افغانستان ولس د بیارغونی او پرمختګ په لاره کی ددوی د مرستو منندوی دی.

د نورو بنسټونو تر څنګ، د مدني ټولنې مشارکت د دموکراتیکو تحولاتو او بشري ظرفیتونو په لوړولو، ټولنیزی پراختیا، او د زیان منونکو قشرونوپاللو په موخه د خلکو د ځواکمن غږ په توګه، د ځانګړی ارزښت لرونکی دی. همدارنګه د افغانستان مدنی ټولنه توانیدلې ده چی په مهمو ملی پروسو کی د افغانستان اسلامی دولت سره اوږه په اوږه ولاړه وي او خپله وطني او ملي وجیبه ادا کړي.

اوسمهال افغانستان دری خورا مهم پړاوونه په مخکی لری لکه افغانی ځواکونو ته د امنیتی مسؤلیت لیږد، سوله او ملی مصالحه او د جمهوری ریاست او ولایتی شوراګانو ټولټاکنی. زمونږ په آند د دی پړاوونو بریالیتوب او لازمه اغیزمنتیا د افغانستان د خلکو، او په ځانګړې توګه د مدنی ټولنی د همکاری او نیغ په نیغ ګډون پرته ناشونی برینبی.

د دې مطلب په پام کی نیولو سره چې سوله د ملت د هر وګړي غوښتنه او یو حیاتی اړتیا ده، نو د یوه هدفمند، پراخه او راڼه پروګرام درلودل یو اساسي شرط بلل کیدای شی.

د مدني ټولنې د اغیزمن رول او تجربو په پام کی نیولو سره چې د سولی د فرهنګ په ترویجولو کی یی لري، ځینی مدنی بنسټونه د ګڼو ناستو په ترڅ کی چی د سولی د عالی شورا سره یی د یوه کاله راهیسی درلودلی دی موافقی ته ورسیدل چه د سولی د ټینګښت د پیاوړتیا او ملاتړ لپاره ګډ کار او هلی ځلی وکړی. همدارنګه دواړه لوری په دی سلا شول چې مدنی ټولنې دی په مشخصو برخوکی، د سولی د عالی شورا او نورو دولتی او ټولنیزو بنسټونو سره له نږدی همکاري او همغږی ولری. پاتی دی نه وی چې اوس مهال د مدنی ټولنی ځیني بنسټونه د اغیزمنو وګړنیزو لارو څخه په ګټه اخیستلو سره د سولی د فرهنګ رواجولواو ملی وحدت ټینګښت په برخه کی عملاً کار کوي.

دغه سند (د مدني ټولنی او سولی د شورا تر منځ د همکارۍ چوکاټ) چی د افغانستان د ځینی مدنی ټولنو په نوښت جوړ شوی دی او د دی شورا سره د مشوری وروسته تصویب شو چی د هغه په اساس دواړه لوری په لاندې پنځو برخوکی سره همکاری کوي:

۱.  د سولی پر پروسی باندی د باورد ټینګښت لپاره د خلکو او سولی د عالی شورا سره د ټول هیواد په کچه پرله پسی ناستی او مشوری.

۲. د شکایتونو او اندیښنو لرې کولو لپاره د خلکو او سولی د عالی شورا تر منځ د اړیکو ټینګول

۳. تخنیکی او مسلکی زده کړی

۴. د خلکو د خبرتیا د کچې لوړول اود  سولی د فرهنګ  رواجول

۵.  په بیلابیلو برخو کی علمي څیړنه، او په دی ترڅ کی د پروګرامونو د طرحی څارنه او د هغی د موندنو پر بنسټ د وړاندیزونو برابرول او د هغو د پلي کولو څارل.

همدارنګه دواړه لوری ټولو په جګړه کی ښکیلو خواوو څخه غواړی چه د اسلام د مبین دین د ارشاداتو او د افغانستان د خلکو د غوښتنو په رڼا کی د جنګ جګړی، تاو تریخوالی او ویری اچونی څخه ډډه وکړی او د مفاهمی او مذاکری لاره خپله کړی ځکه چه د جګړی او وینی تویولو دوام هیڅ ډول قانونی او اسلامی مشروعیت نلری او یوازی د خلکو د رنځونو د زیاتیدلو او د هیواد د وروسته پاتی کیدلو لامل ګرځی. ځکه نو ښایی سوله ایزی، معقولی او عادلانه لاری ولټول شی او عمل پری وشی څو چی افغانان پخپله، دنورو د لاسوهنې پرته او د ملی ګټو په پام کی نیولو سره خپلی ستونزې هوارې کړي.

مدنی ټولنه او د سولی عالی شورا داسی انګیري چې د سولی او مصالحی هره پروسه ښایی د هیواد د ټولو وګړو، په ځانګړې توګه د ښځو د حقونو او د تیری لسیزی د لاسته راوړنو (د اساسی قانون په ګډون) تضمین کوونکی و اوسی، ځکه چه د دوامداره سولی ټینګښت ددی حیاتی ارزښتونو په پام کی نیولو پرته ناشونی دی. پدی لاره کی د مدنی ټولنی د بنسټونو او د سولی د عالی شورا همغږی د ملی ګټو او د خلکو د حقونو د تامین ضمانت کولی شی.

دا سند د مدنی ټولنی او د سولی د عالی شورا ترمنځ د همکاریٔ لومړی نښه ده چی د هغه تصویب به د موجودو ظرفیتونو څخه د ګټی اخیستلو او سولی د پروسې د ملاتړ د را جلبولو لپاره د ګنو پرګنو سره د مدنی ټولنی پراخه اړیکو نیولو په موخه، د دوامداره همکاریٔ  پیل له ځانه سره ولري.

دا سند د ۱۳۹۲ کال د تلی له څلورمی نیټې څخه، چی د سولی د اونیٔ سره برابره ده، د اعتبار وړ دی او عملی پلان به یی ډیر ژر ترتیب او عملی کیدلو ته وړاندی شی.

د سولی عالی شورا د رهبری هیآت                                    د مدنی ټولنو بنسټونو استازی